انجنیر سلطان جان کلیوال ۲۰۱۸/۰۷/۱۷

# د ثور کودتا، د سرطان له کودتا را زیږیدلې ده !!!

د ۱۳۵۲ کال د سرطان د میاشتی د (۲۶) د کودتا نه چی د سردار محمد داود خان په مشری د یو شمیر وړو نظامی منصبدارانو له خوا تر سره شوه او د محمدظاهر شاه سلطنتی نظام یی را نسکور کړ، (۴۵) کاله تیریدونکی دی. تردی کودتا تقریباً پنځه کاله وروسته د ۱۳۵۷ کال د ثور د میاشتی په (۷) نیټه یوه بله خونړی کودتا ، چی د افغانستان د خلق دموکراتیک غیر رسمی گوند په مشری بیا د هماغو او ځو نورو ټیټ رتبه منصبدارانو له خوا سرته ورسیده، (۴۰) کاله تیر شول. دی دواړو کودتا گانو چی د عقدو او انتقام اخستنی په نتیجه کی را منځ ته شویدی، دی وطن او د پیریو پیریو د ډول ډول استبدادونو لاندی پاتی شوی افغان ولس ته دومره ستری خساری او زیانونه ورسول چی نه یی تلافی امکان لری او نه د همدی کودتاو نه د را زیږیدلو ستونزو په هوارولو باندی ځوک پوهیږی، او دا هم نه ده معلومه چی لا به دا ولس تر کومه د دی بد مرغیو په اور کی سوځي؟

له هغی نیټی ځخه چی لومړی د سرطان کودتا او بیا وروپسی د ثور کودتا تر سره شویده بیا تر ننه پوری زمونږ د افغانی ټولنی ډیرو څیړونکو او محقیقنو بی شمیره کتابونه، مقالی او یاداشتونه لیکلی او ټولنی ته یی وړاندی کړیدی.

چاته سردار محمد داود خان قهرمان بریښیدلی او هغه یی یو داسی رهبر تو صیف کړیدی چی گواکی د افغانستان د آبادی او ښیرازی نه پرته یی د بل هیڅ شی سره نه مینه لروده او نه یی و طنی کټو سره بل هیڅ شی پرته کولی شو او همدا وطنی عشق و چی هغه یی د ټولی بی گناه کورنی سره په مظلو مانه توگه له منځه یوړ.

چاته بیا نورمحمد تره کی یو داسی ستر رهبر او لار ښود په نظر ورغلی چی د افغانستان په ټول تاریخ کی نه سیال شته او ساری، او د خلکو او وطن سره د هغه ستره مینه د دی سبب شوه چی د خپل شاگرد له خوایی په خوله بالښت ور کیښودل شو او تر مړینی وروسته یی قبر ته هم اور واچول شو.

ځنی نو رو ته بیا حفیظ الله امین یو هسی زړور مبارز ښکاره شویدی چی د کرملن مانی او د دی مانی د وخت زعامت یی نوره د موجودیت حوصله له لاسه ورکړه او بی له دی چی په افغان ملک باندی مستقیم تجاوز وکړی په بل ډول، دی انقلابی ستوری ته نزول نه شی ور کولی.

یو شمیر نور بیا په دی باوردی چی ببرک کارمل یو هسی مدبر مفکر او روشنفکر شخصیت و، چی تر بل هرچا د دی هیواد د پرمختگ او ترقی په لاره او طریقه ښه پوهیده او یواځنی شخص و چی د فاشست امین د ساتور ځخه



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

یی د دی هیواد نورو قومونو او قبیلو ته نجات ور کړ اود ثور پرشا نه تلونکی انقلاب یی خپل اصلی مسیر ته برابر کړ.

او بلاخره ځنی بیا داسی ادعا کوی چی ډاکټر نجیب ا لله هغه بی تعصبه افغان زعیم و چی غوښتل یی د ټولو پخوانیو رهبرانو له خوا را منځ ته شوی خنډونه، ستونزی او ډول ډول معضلی د ملی رو غی جوړی د ملی پالیسی په غوره کیدو سره له منځه یوسی او د ټولو افغانی ډلو ټپلو تر منځ د مفاهمی له لاری د یوه نظام په جوړیدو سره یو واحد افغان دولت را منځ ته کړی، د ده همدا ملی طرحه د دی سبب شوه چی د پاکستانی ماموریښو په امر سره یی مړی د طالبانو له خوا د آریانا په څلور لاری کی را و ځړول شو.

تر دوی را وروسته نور بدلونونه هم را منځ ته شول، نور کڼ شمیر لیډران او قهرمان میدان ته راغلل او هر یوه لکه د بزکشی د میدان په څیرد مړه ملت مړ وجود د حلال دایری ته ورساوه او لا هم لوبه روانه ده، داچی څوک او کوم قهرمان به ګټونکی شی پته نه لګی.

کوم شی چی زه یی ویل غواړم او په دی پوره باور لرم هغه دادی چی نه سردار محمد داود خان او نه تر هغه را وروسته نورو څیرو او قوارو د دی ملت او دی وطن سره دومره مینه لروده لکه څومره یی چی د خپلو شخصی غوښتنواو په خپل لاس کی د قدرت د انحصار سره لروده. له دوی څخه یوه هم د خپل وطن آبادی ته دومره کار نه دی کړی لکه څومره چی یی هغه ته زیان او تا وان رسولی دی .

که سردار صاحب د ټول دولتی قدرت د انحصار سره او د یکه تازی سره مینه نه درلوده نو ولی یی کود تا وکړه او ولی یی د محمد موسی شفیق حکومت ته وخت ورنکړ چی هغه کار چی څلور کاله وروسته ده خپله ورته ډیره بی وخته ملا وتړله یعنی( د شوروی اتحاد نه فاصله نیول) ولی یی شفیق ته وخت ورنکړ چی دا کار یی پیل کړی و چی تر سره یی کړی؟ او بیا د کودتا د بری نه وروسته یی د جمهور رئس، صدراعظم، وزیر دفاع او وزیر خارجه ټول پوستونه د مرکزی کمیټی د مشر توبه پوری ولی په خپل لاس کی واخستل، ایا په دی ټول هیواد کی نور څوک نه و چی دا یو څو پوستونه یی ورته سپارلی وایی؟ ایا سردار صاحب په دی نه پوهیده چی دا واړه او کم تجربه عسکری منصبداران په داسی یوه هیواد کی چی د لومړی وار د پاره پکی یو لوی تحول یعنی جمهوری نظام منځ ته راغلی د دی لیاقت او اهلیت لرونکی نه دی، چی په دی حساس وخت کی دومره ستری وظیفی او وزارتونه ورته وسپارل شی؟ ایا سردار داود خان په دی نه پو هیده چی شوروی اتحاد د ده د صدارت له دوری راهیسی چی همدی یی اصلی مبتکر و، په دی هیواد کی څومره سرمایه ګزاری کړیده ؟ او ایا دی به و توانیږی چی د جمهوری دولت په دوه دری کاله عمر تیریدو سره او د ایران یا سعودی په څیر د امریکا په لومو کی د ښکیلو هیوادونو اقتصادی مرستی به دی او دده جهوری نظام چی د نیم نه زیاته برخه یی ده پخپله د شوروی پلوه عناصرو او وړو منصبدارانو په لاس کی ور کړیده د شوروی له مداخلی نه وژغوری؟؟ ایا سردار داودخان په دی نه و خبر چی د ده د جمهوریت په وخت کی د زرونو تنو نه زیات لوی او واړه شوروی متخصصین هم په تولیدی، هم په تعلیمی او هم نورو انکشافی پروژو کی په عملی توګه په کار لګیادی او دنیم نه زیات یی د جاسوسی وظیفه هم تر سره کوی؟ ایا سردار صاحب ته دا پته نه وه چی د ده په اردو کی د ده دولت نه د شوروی د دولت طرفدار عناصر ډیر دی؟ ایا سردار صاحب د هماغه باور او اعتماد له مخی چی په شوروی دولت او نظام یی لروده خپل دوه زامن ( خالد ) او

( میرویس ) د لوړو زده کړو د پاره شوروی اتحاد ته د نورو زرګونو محصلینو سره نه و استولی او په همدی وخت کی چی ده غوښتل د شوروی نه ځان لری کړی دواړه د کابل د پولی تخنیک په انستیتوت کی د لسګونو شوروی استادانو سره یوځای په درس ورکولو نه و لګیا؟ ایا د ده دی دواړو تعلیم یافته زامنو چی ډیر زکی او د ښو صفاتو خاوندان هم وو، د سردار صاحب سره کله هم لیده کاته نه درلودل چی د حالاتو په هکله یی تری پوښتنه کړی وای چی ستاسو په تعلیمی موسسه کی چی د روسانو له خوا پر مخ وړله کیږی، زما د جمهوریت په هکله څه ویل کیږی او څه خبری او کیسی روانی دی؟؟ ایا د مصر د جمهور رئس انورا لسادات سره چی تازه یی شورویان د خپل هیواد نه شړلی ول، د ده لیدنه ضروری وه؟ ایا دی نه پوهیده چی نه د ده موقف او اقتصادی حالات د مصر د دولت غوندی دی او نه یی موقعیت د مصر سره ورته والی لری چی د هغه ( سادات) تجربه د ده په هیواد کی پلی شی؟ ایا شهید سردار صاحب د یوه پاخه سیاستوال او یوه داسی شخص په توګه چی په سیاست کی کی رالوی شوی و، ټول عمر یی په زمامداری کی تیر شوی و په دی نه پوهیده چی د کیوبا دولت چی د شوروی اتحاد له خوا د امریکا د ړیری لاندی د سرطان د دانی په څیر د امریکا د ناروغی سبب و او هغه د نورو غیر منسلکو هیوادو لپاره د یوه غیر تړلی هیواد په توګه قبول شوی و او سردار صاحب په دی تلاش کی و چی هغه د غیر منسلکو هیوادو له قطاره و باسی او دا کار د شوروی د دولت د پاره د منل وړ نه و؟ ایا سردار صاحب په دی نه و خبر شوی چی د شوروی د کمونست ګوند د پریکړی سره سم د خلق او پرچم دواړه ډلی د سیمی د نورو کمونستو ګوندونو په منځګړیبوب د څه د پاره په واحد ی ګوند بدل شوی و؟ او بلاخره د لسګونو نورو پوښتنو نه وروسته ایا سردا محمد داود خان په خپله کابینه او دولتی پوستونو کی د هغو چپی عناصرو د نفوذ او د شوروی د جاسوسیو د شبکو سره د اړیکونه نه و خبر چی د ده د کودتا د اصلی مبتکر ډاکتر حسن شرق په شمول یی ټول په یوه وخت کی له ځانه لری او نسبتأ بی صلاحیته کړل؟ دا او دی ته ورته نوری ډیری پوښتنی شته چی د دی ملی قهرمان ملی شخصیت د سوال لاندی راولی او همدا د ده اشتباهات ، بی ځایه ، بی وخته او بی سنجشه اقدا مات او تیر وتنی د دی سبب جوړ شی چی د ثور د خونړی او بدمرغی کودتا ، او د افغان ولس د بربادی د ستری فاجعی د را منځ ته کیدو د پاره زمینه جوړه شی. زه د نورو نا اهله زعامتونو نه ، چی اصلاً بی بنیاده، د ملت او ولسونو نه لری او حتی رټل شوی څیری وی او دی، د یوه داسی شخص لکه سردار محمد داود تاریخی مسؤلیت ډیر دروند ګنم او د ده خود خواهی او سر تمبګی چی اصلاً د هوښیارو او مدبرو اشخاصو کار نه دی د دی ټولو بدبختیو د را زیږیدو د پاره، چی لا هم دوام لری او دوام به وکړی د پیل د نقطی په ستر ګه ګورم. دا زما خپل تحلیل دی ځکه زه د سرطان د کودتا په وخت کی زلمی وم او د پولیتخیک د انستیتوت د دریم کال محصل وم او دا می د سر په سترګو لیدل چی د کودتا په لومړیو کی د پرچم د ډلی د غړو له خواهغی ته څومره کار کیده او بیا چی د سردار صاحب په پالیسی کی تغیر راغی دهمدی پرونیو طرفدارانو له خوا په هغه پسی څه ډول تبلیغات روان وو؟ دا هرڅه ما پخپله لیدلی او اوریدلی دی نو ځکه په دی برخه کی د سردار صاحب د پلویانو لیکنی راته چی ځنی یی په ډیرو ښو جملو او لوړو ادبی معیارونو سره او ځنی نوریی بیا په ډیری کمزوری بنی سره وړاندی کوی، سمی نه بریښی. او دا ځکه چی د حقیقت نه ډیری لری ، احساساتی او حتی دروغ دی. او دا هم له دی کبله چی دا ښاغلی د هغه( سردار داود خان) په تیر وتنو سترګی پټوی او په دی نه قانع کیږی چی سیاست د وړو ظابطانو او د عقدو نه د ډکو کسانو کار نه دی،

بلکی هغه پراخه تحلیل او ارز یابی غواړی او هغه  زعامت  چې په سر تمبګیی، سر زوری او خود خواهی سره تر د لاسه شوی وی د ملت څه چې حتی د یوی کورنی ستونزی هم نه شی حل کولی.

هر څوک چې زما دریځ  هر ډول تعبیروی ا ختیار لری خو زه په دی پوهیدلی یم چی د ا فغانستان د ټولو بد بختیو بنیاد د سردار محمد داود خان په مشری د سرطان د (۲۶) نیتی کودتا ده او بس، که هغه دا بی وخته نا مناسب او ناروا عمل نه وای کړی دا وروسته کړاونه به نه وای را منځ ته شوی او نه به هر کس ناکس ته د دی زمینه برابره شوی وای چی د ارګ  او واکمن کیدو خوبونه وګوری او  د افغان ولس په بربادئ او تباهی کی یو د بل نه ګړندی ګامونه پورته کړی .

ځنی ښاغلی په دی باور دی چی اصلاً د محمدظاهرشاه د بی کیفایته سلطنت د دموکراسی  بی بندو باره دوره د دی ټولو ناخوالو مورده، چی د سرطان کودتا ورته د پای ټکی کیښود او د نیکمرغی ټولی بندی درواز د دی ملت په مخ بیرته شوی. خو ماته دا خبره د دی ملت د ټولو  هغو کسانو په سترګو کی د خاورو اچولو نه پرته نور څه نه ښکاری، چی د سردار صاحب د کودتا د بری نه را وروسته یی د نا اهله واکدارانو او بی کیفایتو حتی بی سوادو وړو ظابطانو د ورځنیو کړو وړو ننداره کوله او  هغه یی په دقیقه توګه څیرل. دا سمه خبره ده چی د دموکراسی دوری د سردار محمد داودخان کودتا را وزیږوله او د سردار صاحب کودتا په دقیقه توګه د ثور د کودتا اصلی مور او را زیږونکی ده.

چی په زور او بی لاری مخته کوی ځان

په لوی لاس له ګړنګونو غورځوی ځان

چا لیدلی مستبد چی جوړ رهبر شی؟

پـه وینـا د چاپلوسـانـو  غـولـوی ځان